د زنا کیسې بې ډېرې به خپند پلحولې. مشاتینه يې هم د د خدای وخپې
په اره ول، ډېر کله به يې د ستي او تر مشتي راتلې. په د منځ د
میاشتنی ناروغی په اړه دومره لوڅ غږېدله چې زه به په ګډه کې له خپله
اولادونو شرمېدم. خو کله کله به يې نوري خبرې هم کېدې. چې به
چې که مو څه وموندل، نو دري خپلې تږي کړی چې دا د چا دي
يې صاحب پیدا نه شو نو نه يا ست ملامت.

خو په ډک بازار کې به مې خندنه ته کوله! تلل شوي. چېرې کېږ
د بوټونو رنګونه او برسونه يې هم راته وړل.

ببرته مې زړه لږ کرار شو، له خان سره مې وویل:

- که راغله، نو ور به يې کم، که يې درک مالوم نه شو. تو نه په ملامتیا
ورخ ووته، خدای خدای مې کول چې ښځه را نه شي. په زړه کې مې
همدا یوه دعا قبوله شوه، ښځه راته غله. فکر مې وکړ چې خدای ژ
وبخښلې.

مازدیگر خوشاله وم، خان او ماشومان مې تر یو څه وخته له بدبختی
راوتلي ګڼل. پیسو ته مې په ذهن کې سم حساب وکړ، ډالر مې لوڅتی
کړې. خلور سوه ډالره څه کم ډېرش زره اوغانی راتلې. د ماشومانو د
مکتب جامې، بکسونه، بوټونه... مې نوي لیدل.

د کور په دروازه کې مې لا په اولادونو زېری وکړ، زوی مې خوشاله و.
خو لور مې تروه تنده نیولې وه. سپکه مې کړه، ورته ومې ویل چې نو
څه وکم! زه به په ټول کابل کې د کوم کور دروازه ور تکوم چې هغه
اې خلکو، دا پیسې د چا دي؟!

له ده سره مې خبرې وکړې، دا کور يې درې مياشتې مخکې اخيستی و.

يو ځل مې بيا حويلۍ ته وکتل، د پخواني کور هيڅ نښه نه وه پاتې، يوازې د بدرف پر ځای لا هماغه پخوانۍ دبله تخته پرته وه.

ټيټ شوم، له خاورو مې د يوې ماتې کاشۍ يوه وړه ټوټه را پورته کړه، د تشناب سپينه کاشي مې وپېژندله، ګوتې مې پرې تېرې کړې، وځلېده، په دې خلا کې مې خپلې چيغې، ساندې او له پزې را څڅېدلې څاڅکي څاڅکي وينې ولېدې.

لاسونه مې مړه شول، کاشي ولوېده، خو په پښو کې مې دومره زور و چې پرې وخېژم، کاشي مې د بوټ لوړې تېرې پوندې ته سيخه کړه، د ماتېدو له ټکا سره مې په مغزو کې پخوانۍ چيغې ورکې شوې.

له سړي مې د مامور قدوس پوښتنه وکړه، خو ده په دې نوم څوک نه پېژندل، دومره يې وويل چې دا کور يې له يوه ازبکه واخيست.

يوه شوم، کور څو وارې خرڅ شوی و.

څو ګامه شاته راغلم، په زړه کې راتېره شوه چې د حويلۍ دروازه همدلته وه. مامور قدوس به همدې ځای کې په زور مچې رانه اخيستې وې. په خوله کې مې د مامور قدوس له نصوارو ډکې ترخې لاړې را وګرځېدې، يودم مې ايق کړل، منده مې واخيسته، د کوڅې تر سره په يوه سا لاړم، بېرته ودرېدم، مامور قدوس مې بايد مونډلی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذته اناول

ني ... نه بي ورکه، شل لکه وشمېره،
ي به پنو سترګو کې ده. اوبا کلن نه
ملتونې، ان پوزته هم نه درته ګورې، ساده خبره ده، هر څوک
يستې پوهېږي، حتى پوښتنه هم نه شي کولی چې ولې؟ هر څه
مندې. د پلار په قسمت کې شل لکه افغاني ليکلي وې، د لور به
قسمت کې اوبا کلن بوډا. دې ته له ماشومتوبه وبل شوي دي چې
دوی به اسمانونو کې انتخابېږي. له خپل قسمته بې وګنه، مور څه
لاس بو، قسمت دي همداسې غول شي و.
به بو، له خپل قسمت سره به څه کوې؟! خدای همدا درته ليکلي
دي، له خدای سره به څنګه زور وهې. نه، وبې زغمه، هسې هم دنيا
تېرې ورځې ده، مرې.
خو دنيا به دوې ورځې نه وي، کلونه کلونه به يې مرګ ته سترګې
نيسي. مرګه! څه وخت راځې؟! خدای دې ژر راوله.
که څنې درس ووايي، بيا خو نو غټ تاوان دی، سترګې بې خلاصېږي،
به دې پوهېږي چې له شرعي او قانوني اړخه مې هېڅوک اوبا کلن ته
نه شي ورکولای. زما خوښه مهمه ده، په مکتب کې يې راته ويلي و چې
نه حتی د دربېمګړي په موجوديت کې له هلک سره خبرې هم کولای
شي، شرايط اېښودلای شي. د پوبل خوی او عادت معلومولی شي، ان
که يې د خولې هم بد بوی ته، مه يې منه. نه ورته ووايه، شرعي حق
لرې، هېڅ خبره نه ده.

